PROPERTY OF ACKU

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

اې مؤمنانو! په انصاف کلک ودرېږئ او باید د الله لپاره ګواهي ورکړئ که څه هم ستاسې، ستاسې د مور او پلار او یا خپلوانو پرخلاف وي، هغوی بډای وي یا مسکین، ځکه چې الله له تاسې څخه پر هغوی ډېر مهربان دی. د انصاف په کار کې د خپل هوا منه مه کوئ که تاسې په ګواهي کې ژبې واړوئ یا له ویلو ډډه وکړئ نو بېشکه چې الله پاک ستاسې له کړنې څخه ښه خبر دی.
(النساء: ۳۴ - ۳۵)

درس حدیث

له عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه روایت دی هغه وایي چې یو سړي پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته وویل: ای د الله پیغمبره! زه چې کله نیکي یا بدي وکړم نو څرنګه پوه شم چې دا نیکي یا بدي ده؟ پیغمبر صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: کله چې تا له خپلو ګاونډیانو څخه واورېدل چې نیکي دې وکړه نو تا بېشکه نیکي کړې ده او چې ورڅخه دې واورېدل چې تا بدي کړې ده نو بېشکه بدي دې کړې ده. (ابن ماجه)

شهادت دویم کال، ۹۲ مه ګڼه، چهارشنبه ۱۳۸۹ هـ ل د کب ۴ مه د۱۴۳۲ هـ ق د ربیع الاول ۱۹ مه د۲۰۱۱ م د فبروری ۲۳ مه

شورای عالی صلح یک هیأت را به زندان گوانتانامو می فرستد



رادیو آزادی:
یک مقام ارشد افغان می گوید، شورای عالی صلح یک هیاتی را به گوانتانامو می فرستد تا در زمینه پروسه صلح با زندانیان طالبان در ارتباط رهایی احتمالی آنها صحبت کند.
روزنامه تیلگراف لندن گزارش می دهد که ارسلا رحمانی یک عضو ارشد شورای عالی صلح همچنین گفته است که این هیات در همکاری با ایالات متحده امریکا و به دنبال آن که هیلاری کلنتن وزیر خارجه ایالات متحده گفت، برای پایان جنگ در افغانستان تلاش های دیپلوماتیک را تقویت می بخشد به گوانتانامو اعزام می شود.
گفته می شود که حدود بیست تن از سران طالبان در زندان گوانتانامو بسر می برند و به باور شورای عالی صلح رهایی آنها کمک خواهد کرد تا رهبران سابق خود را برای گفتگو آماده بسازند.
امریکا پیش از این مساله رهایی زندانیان طالبان در گوانتانامو را در بدل معامله سیاسی رد کرده بود، اما اگر به تقاضای شورای عالی صلح در زمینه مصالحه با طالبان مسلح معامله صورت می گیرد این به مفهوم تغییر در موقف ایالات متحده امریکا خواهد بود. ...

بقیه در صفحه ۴

د ولسي جرګې د رئیس د ټاکلو لپاره ځانګړې کمیسیون هم پاتې راغې

کابل رسنۍ:
د ولسې جرګې د رییس د انتخاب پر سر د ستونزې د هوارولو په اړه لا هم تاوده بحثونه روان دي او د ولسې جرګې غړي وايي، چې د اساسي حل لارې موندلو ته نږدې شوي دي.
د دې ستونزې د حل لپاره د ولسې جرګې د ځانګړې کمیسیون مسوولانو وویل، چې په تیرو څلورو ورځو کې دوي هڅه کړې چې دې ستونزې ته د حل یوه مناسبه لاره پیدا کړي او په دې اړه یې له ولسمشر کرزي او د هغه له مرستیالانو سره هم لیدلي دي.
د دې ځانګړې کمیسیون رییس حاجي محمد محقق د دوشنبې په ورځ د

پاتې ٤ مخ

د خوست والي د ورو ستي بریدونو په اړه د ملي ماتم غوښتنه وکړه

د خوست والي عبدالجبار نعیمي له مرکزي حکومت څخه په ټول هېواد کې د کندهار، خوست ، جلال اباد ، کونړ او کندوز د پېښو له امله د ملي ماتم غوښتنه وکړه.
د خوست والي دا غوښتنه وروسته له دې وکړه، چې په کندوز کې د یوې ځانوژونکې حملې په ترڅ کې ۲۹ مړه او ۳۴ ټپیان شول.
یوه اونی مخکې په کندهار کې د ډله ییزو ځانوژونکو د برید په نتیجه کې ۶۵ تنو عامو وګړو او پولیسو ته مرګ ژوبله واوښته .
د تیرې جمعې په ورځ په خوست ښار کې د موټر په وسیله چې د ښار په یوه ګڼ میشته سیمه کې ۴۱ عامو وګړو او یوه پولیس ته مرګ ژوبله واوښته.
همدارنګه د تېرې جمعې په شپه بهرنیو ځواکونو د کونړ په غازي اباد ولسوالی کې

پاتې ٤ مخ

پر موږ د محمد ﷺ اتباع فرض ده او که د ولادت د ورځې لمانځل؟! دریم مخ
نګاهی به قیام خونین سوم حوت صفحه دوم
د کب دریمه د حماسو د تاریخ یو نه هېرېدونکې ورځ دریم مخ
د امریکا دائمي پوځي اډې ګټه به یې ډېره وي او که تاوان ؟! دویم مخ

په بدخشان کې د ولسي جرګې د انتخاباتو د رایو بیا شمېر پیل شوي

په داسې حال کې، چې د ځانګړې محکمې په حکم په بدخشان ولایت کې د ولسي جرګې د انتخاباتو د رایو بیا شمېرل پیل شوي، د انتخاباتو خپلواک کمسیون په دغه اقدام خپله حیرانتیا څرګنده کړې.
وروسته له هغې، چې په افغانستان کې د ولسي جرګې په انتخاباتو کې د درغلیو مسئله د هېواد عدلي او قضایي ادارو ته وړاندې شوه دا لومړې ځل دې، چې په کوم ولایت کې د دغو انتخاباتو رایې بیا شمېرل کیږي.
خو د انتخاباتو د خپلواک کمسیون مشر که څه هم له دې کار سره یې خپل مخالفت څرګند کړ، خو ویې ویل، چې دوي د دې کار په وړاندې کوم مزاحمت نه دې کړې.
فضل احمد معنوي، چې د دوشنبې په ورځ یې له ازادی راډیو سره خبرې کولې وویل، چې د رایو له بیا شمېرنې نه هره نتیجه، چې دوي باستل غواړي مسؤلیت به یې د دوي په غاړه وي:

پاتې ٤ مخ

د شهید اسدالله زهیر د شهادت د دویمې کلیزې په مناسبت

شهید اسدالله زهیر

له دې څرګند واقعیت نه هېڅوک سترګې نه شي پټولي چې هر انسان د الله له لورې د خپل ټاکلي عمر له تېرولو نه وروسته له دې پاتې نړۍ څخه تلپاتې نړۍ ته رحلت کوي، خو هغه خلک بختور او نیکمرغه دي چې د اسلام د سپېڅلی دین په ګاټه ښکلي او نیکو عملونو سره ورځي، په ځانګړې ډول هغه مؤمن انسان خو ډېر نیکبخت دی چې د حق په لاره کې ووژل شي او د شهادت لویه مرتبه ترلاسه کړي.
د ننګرهار ولایت د روداتو د ولسوالی د حصار شاهي د کلي اوسیدونکی شهید اسدالله زهیر هم دهغو نیکبختو ځوانانو له جملې څخه دی چې له نن نه دوه کاله وړاندې د شهادت اوچته مرتبه ترلاسه کړه. د خدای ښښلي شهید اسدالله پلار ډاکتر سید داود خان هم له اسلام سره د مینې په جرم د کمونستانو په لاس په شهادت رسول شوې و، هغه مهال شهید اسدالله د شېږو کلو په عمر کې و چې د یتیمی درنه ځپېړه یې پرمخ وخوړه او د پلار د شفقت له سیورې نه محروم شو.

پاتې ۴ مخ

نیویارک ټایمز:

د پاکستانیانو قاتل د سي، آی، اې افسر وو

امریکا رسنۍ:
نیویارک ټایمز په خپله تازه ګڼه کې د هغه امریکایي له پټ مخ څخه پرده پورته کړې ده، چې تیره میاشت یې په لاهور کې دوه پاکستانیان په توپنچه ووژل.
نیویارک ټایمز د یوه امریکایي چارواکي په حواله وایي چې ریمنډ اې ډیویس د سپېشل فورس متقاعد افسر وو، چې اوس یې له سي آی اې سره کار کاوه.
ریمنډ اې ډیویس د پنجاب ایالت په لاهور ښار کې دوه پر موټرسایکل ناست پاکستانیان په داسې حال کې وژلي ول، چې په وینا یې د ده د تښتولو هڅه یې کوله.
بلې خوا ته داسې راپورونه هم خپاره سوي چې د ډیویس تښتوونکي هم د پاکستان د استخباراتي سازمان آی، ایس، آی غړي وو.

پاتې ٤ مخ

ناتو:

پایگاه های دایمی در افغانستان نمی خواهیم

پژواک :
ناتو میگوید که آنها بنابر درخواست دولت افغانستان و ملل متحد به افغانستان آمده و خواستار پایگاه های دایمی نظامی در اینجا نیستند. دومینک میدلی Dominic Medley سخنگوی نماینده ملکی سازمان ناتو در افغانستان به تاریخ دوم حوت به آژانس خبری پژواک گفت که چندی قبل در نشست لیزبون موافقتنامه همکاری های طویل المدت را با افغانستان امضاء کرده است. وی افزود: "ما خواستار پایگاه های دایمی نظامی در افغانستان نیستیم."
به گفتهٔ دومینیک، به اساس موافقتنامه یاد شده، نیروهای امنیتی افغان به اساس هدف رئیس جمهور حامد کرزی بطور تدریجی مسوولیت امنیت را تا سال ۲۰۱۴ میلادی در سراسر افغانستان به عهده خواهند گرفت.
وی گفت که مطابق موافقتنامه عقد شده با افغانستان، ناتو در آینده نیز به آموزش و تجهیز نیروهای ملی افغان

بقیه در صفحه ۴

امریکایي سناتوران د افغانستان په حالاتو کې د ښه والي نښې ویني

کندهار، تاند ویبپاڼه:
یوه امریکایي سناتور، چې کندهار ته یې سفر کړی، د دوشنبې په ورځ وویل چې په دې هیواد کې له بې ثباتی او بېوزلی سره سره د پرمختګ نښې ویني.
متحدو ایالتونو په مشرانو جرګه کې د لوېدیځې ویرجنیا سناتور فریش من چې له څلورو نورو سناتورانو سره کندهار ته تللی، پرون د ټیلفون له لارې خبریالانو ته وویل، سره له دې چې لا هم بې ثباتي شته خو د سیمې په وضعیت کې د ښه والي نښې نښانې ویني.
د دیموکرات ګوند دغه سناتور همداراز وویل چې کندهار ته تر روانېدو مخکې یې په کابل کې له ولسمشر کرزي سره لیدلي وو.
دده سره په دې سفر کې ملګري سناتور، جو مانچین هم وویل، د خپل مخکیني سفر په پرتله، چې په ۲۰۰۶ کې یې افغانستان ته

پاتې ٤ مخ

سرمقاله: د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

سوم حوت جبهۀ بی امان نعره های الله اکبر در برابر تانکهای غول پیکر روس

نه تنها زمامداران کرملین و حاشیه نشین سفره برژنف، دانه های شطرنج جابجا شده در رقعۀ پکت وارسا داخل شدن هشتاد هزار قشون شوروی مجهز با مخوف ترین سلاح، با غرش تانکهای مهیب زیر حمایۀ قوای هوایی پیشرفتۀ جهان که صدای آن فضای کابل و سایر شهرهای کشور ما را به لرزه درآورده بود به مثابه آبی بر آتش برای خاموش ساختن لهیب انقلاب اسلامی در این کشور می پنداشتند و آنرا آرمان دفن شده می شمردند که دستپاچگی برژنسکی بر دور میز ریاست جمهوری جیمی کارتر و مبادلۀ راپورهای توأم با ناامیدی نه فقط از آینده افغانستان که همه منطقه محاسبات را در جهت توازن قوا و مصالح درین منطقه واژگونه جلوه می داد، در عالم اسلام نیز حتی بزرگترین مفتیان و دانشمندان قدم های سپاه سرخ را غیر قابل برگشت تصور می کردند.

اما همین چند شب و روز از ششم جدی تا سوم حوت ایمان و عقیده صف آرائی خود را در برابر آهن پاره ها به آزمایش گذاشت. در حالیکه دفتر خاد داکتر نجیب الله رئیس پرورش یافتۀ در دامان K.G.B به مردم بیداد می کرد و در تحری و جستجو هر متحرکی بود که چه می کند و به کجا می رود. هنوز از دست و پاچگی نه برآمده بود که بر نامۀ عصیان عمومی در برابر حضور ناخواستۀ نیروهای شوروی وقت از خیرخانه و خوشحال خان، چهاردهی، جادۀ میوند تا پل باغ عمومی و سایر نقاط شهر کابل و ولسوالی ها به پختگی رسید. شبانگاه نعره های هیبتناک الله اکبر از سر بامها درو دیوار شهر کابل چون تیری بر قلب سپاه روس حواله می شد، مردم با ایمان کامل با غرش شیر، الله اکبر سر میدادند و شهر را با به آتش کشیدن زباله ها چراغان کرده بودند، روز سوم حوت به جاده ها ریختند، نعره ها سردادند تا به قشون متجاوز و غلامان جیره خوار آن بفهمانند که افغانستان را لقمۀ بلعیده شده نشمارند و فریب بیچاره گی و بیوسیله گی مردان این سرزمین را نخورند که رهروان راه توحید آموخته اند که ۳۱۳ تن آراسته با زیور ایمان و فداکاری بارها بزرگترین لشکر از سپاهیان جهل را خوردو نابود کرده و این حماسه تا جهان است ادامه دارد.

هر چند تانکهای غول پیکر شوروی همه جاده های شهر کابل را مورد هجوم قرار داد و لشکر وحشی روس و چاکران آنها از حزب خلق و پرچم صفوف بی دفاع مظاهره چیان را به رگبار بست آنها که مفهوم انسانیت را فقط در برده گی به کمونیزم جهانخوار و تحمیل امپراطوری سرخ بر جهان با زور تیر و نیزه، بم و آتش خلاصه نموده بودند چیزی بنام انسانیت، حقوق بشر در قاموس خود نداشتند جاده های شهر کابل را از اجساد به خون خفتۀ جوانان بی دفاع و بیرون شده با دست خالی فرش نموده و اجساد آنها را پامال چاینهای تانک نمودند.

سرکوبی این قیام مردم کابل را متوجه آن ساخت که یگانه راه نجات وطن رو آوردن به همان جبهاتی است که پیش از آن نفس راحت را بر دو دیکتاتور مزدور (ترکی و امین) حرام ساخته بود.

سپاه شوروی وقت پس از ده سال قتل و غارت و ویرانی و تحمل خسارۀ جان و مال زمانی به مفهوم این قیام پی برد که آخرین سپاه پل حیرتان (پل دوستی عوض شده به پل نفرت، انزجار و دشمنی) را عبور می کرد. عاقبت زور گویی در برابر ملت با شهامت افغان را برای نسل های بعدی روس اذعان می کرد و بر زمامداران ناآگاه و بی خبرش نفرین می گفت که در همسایگی نزدیک با این سرزمین شکست های پیهم اسکندر مقدونی، مهاجمان چنگیزی مغل و سه بار شکست قشون پوشیده در آهن و فولاد بریتانیای کبیر را در این مرز و بوم نادانسته بر آن پای گذاشته اند.

ما در حالیکه یاد شهدای سوم حوت و همه حماسه آفرینان فدا کار وطن عزیز را گرامی میداریم بار دیگر نفرین و انزجار عمیق خود را در برابر آنهای تکرار می کنیم که در بخاک و خون کشیدن قیام گران سوم حوت در کنار تجاوز گران هموطنان خود را زیر چاینهای تانک می نمودندو اکنون بی شرمانه در مقام استادی، آزادی و دیموکراسی و حمایۀ حقوق بشر، صاحب نظری و تخصص نمایی می کنند.

نگاهی به قیام خونین سوم حوت

تورن غلام سخی

درست ۳۱ سال قبل از امروز در نیمۀ شب ششم جدی بود که قوای اشغالگر روسی از هوا و زمین و از استقامت های مختلف افغانستان غرض اشغال وطن مجاهدان و آزاده گان وارد این سرزمین گردید، با طلوع آفتاب آنروز که دامنه های هندوکش و سلیمان پوشیده از برف بود لشکر اهریمن با کلاه های سیاه و قدهای کوتاه که اکثراً سربازان کشور ازبکستان و تاجکستان در رأس آنها افسران ارتش روس قرار داشت با تمام ساز و برگ از هوا و زمین در قدم اول داخل قشله ها و مراکز نظامی گردیدند و آنها را به بهانۀ اینکه افغانستان از طرف امپریالیزم جهانخوار امریکا اشغال گردیده و شما باید از کشور همسایۀ جنوبی خود دفاع نمائید در پهلوی این افکار با رهنمایی و حمایت هواداران کمونیزم (سپاهیان خلق و پرچم) به شهرها، دهات حتی به کوچه ها رهنمایی می شدند وطوری وانمود می کردند که مردم افغانستان همه طرفدار مداخلۀ آنها در کشور شان هستند زمانیکه اینها با نعره های کفرشکن الله اکبر که طنین کوبندۀ در قلب دشمنان خدا و وطن مواجه شدند آهسته آهسته اینها از صف مقدم جبهه به عقب کشانده شدند، روسها با هراس ازینکه مبادا کشورهای اسیر و در بند آسیای میانه که آنها در کشور شان صدای الله اکبر را بدون شک در گوشها داشتند با هم کنار بیایند، اینها به توطئه و دسیسۀ سردمداران روسی پی ببرند و با برادران مسلمان افغان خویش در یک صف قرار دگیرند این خود یک انگیزۀ خطرناک به مقر فرماندهی روسها بود که آنها با درک این واقعیت عینی تصمیم گرفتند تا آنها را دوباره به کشور شان برگردانند و خود با سپاهیان مزدور خلق و پرچم در صدد کوبیدن قوای مجاهدین و اشغال افغانستان شوند مردم آزاده و استقلال طلب ما که حق آزادی و حریت را از نیاکان شان به ارث بردند و دفاع از وجب وجب این سرزمین را به خود فریضۀ دینی می شمارند. همچو آسیای میانه در اسارت و بردگی نخواهد رفت به مجرد دیدن افراد مسلح روس در دهات و قصبات و مراکز شهرها، احساسات دینی و مذهبی تحت شعار (جهاد فی سبیل الله) در تمام این سرزمین به طغیان درآمد و دریای خروشان آزادیخواهی و جهاد به اثر مداخله ظلم و بیداد روسها و حامیان خلق و پرچم شان پرطلاطم گردید و فریضۀ جهاد در قلب هر فرد مؤمن و مسلمان جوشیدن گرفت.

آهسته آهسته وحدت مجاهدین شکل میگرفت، گروهایی مقاومت و جهادگر با روش های ایثار گرانه و تکتیک های مختلف متحدانه دشمن تا به دندان مسلح را مورد تهدید قرار میدادند تا اینکه همچو جنگهای اول و دوم افغان، انگلیس سپاهیان گمنام و خدا پرست با حرکت خودجوش شب سوم حوت با دادن اطلاعیه های مخفی و توزیع شب نامه ها مردم مسلمان کابل را بسیج نمودند. تا قیام عمومی و خونین را با اشتراک همه اقوام و قشرهای مختلف جامعه که در کابل زندگی میکردند به راه بیاندازند.

قیام گران در زمان موعود که همانا سپیده دم صبح بود از خانه ها و از عقب دیوارهای باغها بطور ناگهانی و هوشیارانه به تمام مراکز پولیس شهر حمله بردند و با اشغال حوزه های پولیس قدم به قدم به کوچه ها و جاده های عمومی می ریختند و تمام پرسونل نظامی اعم از پولیس، قوای مسلح، امنیت ملی (خاد) پا به فرار نهاده و مراکز نظامی روسها پناهنده شدند، ساعات پس از طلوع آفتاب که مردم از همه نقاط شهر به خصوص خیرخانه، بی بی مهرو، کارته پروان، خوشحال مینه، کارته سخی، چهاردهی، دهمزنگ، چهل ستون و شهدای صالحین به طرف شهر در حرکت بودند که تانکهای غول پیکر روسی با رهنمایی دوستان افغانی شان (کمونستها) بالای تانکها نشسته و بطرف ساکنان شهر و شورشیان مسلمان آتش کشیدند، مدافعان وحدت و آزادی با دست خالی و نعره های کفرشکن تکبیر به سوی تانکها و زره پوشهای دشمن حمله می بردند با مقاومت شدید و تحمل قربانیها توانستند دشمن اشغالگر را در هر گوشۀ شهر مجبور به عقب نشینی نمایند در جریان روز مقاومت دوام داشت و در اکثر مناطق چند تن از مجاهدان به شهادت رسیدند و مقاومت نابرابر تا سیاهی شب ادامه داشت، شب همه برفراز بامها و کوهها بلند شده و نعره های تکبیر و برگ بر روس، مرگ بر برژنف، مرگ بر ببرک کارمل و هواداران کمونیزم، زنده باد اسلام، زنده باد افغانستان، روسها از خاک ما خارج شوید شعار می دادند. که این مقاومت رادمردان تزلزل بر پیکر کاخ کرملین وارد آورد و روسها دیوانه وار سردمداران داخلی و مشاورین خویش را به مراکز اطلاع رسانی و فرماندهی خود احضار علل و عوامل قیام را جویا شدند بخاطر اینکه قبلاً ببرک کارمل با شرکای همفکر و همرزم شان به روسها وعده سپرده بودند که مردم افغانستان بخاطر مهمان نوازی که دارند از آنها با آغوش گرم استقبال می نمایند زمانیکه روسها به مقاومت گرم مواجه شدند و از خود در میدان جنگ کشته و زخمی بجا گذاشتند هیچ خارجی و بیگانه جز افغانهای قهرمان و مؤمن در برابر یورش و مداخلۀ نظامی شان قرار نداشت. کارمل را با کمیتۀ مرکزی و شورای انقلابی آن مورد تحقیق قرار دادند و خواستار توضیحات شدند که سبب تغییرات عمده و بنیادی در تشکیلات کمونیزم شوروی و حزب دیموکراتیک خلق و پرچم گردید. روسها و حامیان شان به دستگیری قیامگران و سپاهیان مؤمن اقدام نمودند و آنها را به زندان پلچرخی فرستادند و در صدد تغیر در استراتیژی و تکتیک خویش برآمدند که فرستادن ۱۵۰۰۰۰ سرباز با حمایۀ هوایی جتها و هلیکوپتر گنشپ ها باعث کشتار بی رحمانۀ ملت مسلمان و تخریب قرا و قصبات، مزارع و کشتزارها و سبب مهاجرت های طولانی و فرار مغزها از این سرزمین گردید.

قیام سوم حوت باشندگان شهر کابل سرآغاز شکست تدریجی و تاریخی روسها در افغانستان و پیام رستاخیزانه و پر محتوای برای اشغالگران در سراسر کرۀ زمین بخصوص کشورهای استعماری و هم پیمان شان بود و نویدی بود برای افول ستارۀ حاکمیت کمونیزم و فلسفۀ ماتریالیزم در سراسر گیتی.

روح شهداء شاد باد و وحدت این سرزمین همیشه باد

د امریکا دائمي پوځي اډې

ګټه به يې ډېره وي او که تاوان؟!

عبیدالله صافی

ټولو افغانانو ته معلومه ده چې امریکا په افغانستان کې له ولس مشر کرزی نه دائمي پوځي اډې غوښتي دي خو په ځواب کې حامد کرزي ویلي دي چې په دې اړه به پرېکړه مشرانو جرګه، پارلمان او د افغانستان وګړي کوي چې آیا امریکا ته په افغانستان کې د دائمي پوځي اډو جوړولو اجازه ورکړی شي او که نه؟

د امریکا دغې غوښتنې د افغانستان جنګ ځپلي او غم لړلې ولس په یو بل لوی ازمېښت او پریشاني کې اچولی دی، له ډېرو سره دا اندېښنه پیدا شوې چې شاید امریکا له افغانستانه د وتلو اراده نلري نو ځکه ډیرې وګړي امریکا ته د دائمي پوځي اډو د ورکولو مخالفت کوي، خو داسې وګړي هم شته چې د امریکا پوځي اډې د افغانستان په ګټه بولي او وايي چې په دې سره به افغانستان د ګاونډیو او نورو بد نیتو هېوادو له پوځي لاسوهنو څخه په امان پاتې شي چې بالاخر پخپلو پښو ودرېږي او ددې ورتیا پیدا کړي چې راتلونکی لپاره د پردیو د هر ډول لاسوهنو او مداخلو مؤثره دفاع وکړي.

په دې کې هیڅ شک نشته چې افغانستان ډېر حساس او خطرناک پړاو کې قرار لري، له څلورو خواو نه د غمونو او پریشانیو په ګرداب کې ډوب دی، یو مشکل نه دی چې ورسره مقابله وکړی شي، که یو لوری د امریکا په شمول د ناټو غړو هېوادو د پوځونو شتون افغانستان له یو عالم ستونزو سره مخامخ کړی له بلې لورې د ګاونډیو، او نیمه ګاونډیو هېوادو لاسوهنو هم د افغانانو ژوند او امن له ګواښ سره مخامخ کړی دی. په حقیقت کې افغانستان په اوسني وخت کې د ژرندې د دوه پلونو ترمنځ راګیر دی، خو دا هر ګز نه دي پکار چې افغانان د دواړو ترمنځ همداسې ګېر پاتې شي او لدینه د وتلو لپاره لارې چارې ونه لټوي. که څه هم په ظاهره دغه کار ستونزمن ښکاري خو ناشونی او محال هم نه دی چې افغانان لاس تر زني غلې کېني او هر څه په خان ومني.

د یو بیدار، حساس، ذکي او پر وطن مین ولس کمال دا دی چې د هر ډول ستونزو او خرابو حالاتو څخه د خلاصون لپاره نه ستړی کېدونکي هلې ځلې وکړي او داسې لاره راوباسي چې د پردیو ټولې ناروا ارادې شنډې او خنثی کړي، نو ځکه د مشرانو او ولسي جرګې غړو په شمول د هېواد ټولو مشرانو، لیکوالو، عالمانو، خطیبانو، مبصرینو، شنونکو او استاذانو ته پکار دي چې په افغانستان کې د امریکا د دائمي اډو په اړه د سرسري نظر ورکولو پر ځای په پوره غور او فکر سره نظر ورکړي، د افغانستان حال او مستقبل دواړه په نظر کې ونیسي، جغرافیایي حالت یې وڅېړي، پخپله د افغانانو او د ګاونډیانو حساسیت ته وګوري، په دې اړه ژور غور او فکر وکړي چې امریکا ته د دائمي پوځي اډو په ورکولو سره به افغانان ګټه ډېره وکړي او که تاوان؟ د جګړې لمنه به نوره هم پراخه شي او که راټوله به شي؟

د افغانستان استقلال به تر پښو لاندې شي او که نه، اقتصاد به یې وده وکړي او که د غربت په لمنه کې وغورځېږي، خپلمنځي جګړې به نور هم زیاتې شي او که پای ته ورسېږي؟

له ګاونډیو او نیمه ګاونډیو هېوادونو سره اړیکې به دوستانه شي او که په دښمنی بدلې شي؟ آیا امریکا به ددې توان ولري چې افغانستان له دغو ټولو بحرانونو او مشکلاتو څخه راوباسي او که د تېرو لسو کلونو په څېر به هېڅ هم ونکړی شي؟ دا او ددې په څېر ډیرې داسې پوښتنې شته چې ژور غور او فکر ته اړتیا لري، نو ځکه ټولو افغانانو ته پکار دي چې په دې اړه له تعقل او منطق نه کار واخلي او له داسې اقدام څخه کلکه ډډه وکړي چې د افغانستان ګټې، استقلال او استحکام ته نه تلافي کېدونکی تاوان رسوي. امریکا له افغانستان څخه یوازې د دائمي پوځي اډو غوښتنه کړې خو د ورکولو او نه ورکولو تصمیم او پرېکړه پخپله د افغانانو په لاس کې ده، نه ښایي چې افغانان په دې کې له بیړی نه کار واخلي او جذباتي پرېکړه وکړي بلکې ورته پکار دي چې په دې اړه د ټولو جهتونو په نظر کې نیولو سره په ساړه دماغ څو څو ځلي غور او فکر وکړي، ځکه چې دا د هېواد او ولس د سرنوشت مسأله ده، په دې کې د سهوې او موقتي جذباتو هېڅ ځای نشته، دا د هېواد او ولس په غټ تاوان تمامیدلی شي، نه ښایي په داسې حساسه او مهمه مسأله کې د هوش پر ځای له جوش نه کار واخستل شي او هر څه د جوش په څپو کې لاهو کړی شي. (الله دې نکړي)

پر موږ د محمد ﷺ اتباع فرض ده او که د ولادت د ورځې لمانځل؟!

محمد خلیل

موږ مسلمانان هر کال د ربیع الاول په دولسمه د دواړو جهانو سردار محمد صلی الله علیه وسلم د ولادت مبارک ورځ لمانځو، په دې ورځ روژې نیسو، خیراتونه ورکوو او د محمد صلی الله علیه وسلم په سیرت رڼا اچوو، فکر کوو چې په دې کار سره موږ د محمد صلی الله علیه وسلم پر رسالت د ایمان درلودلو مسؤولیت بشپړ، او دهغه صلی الله علیه وسلم د امتي کېدو حق مو ادا کړه، په داسې حال کې چې یوازې د دغو مراسمو په ترسره کولو زموږ هغه دیني او ایماني مسؤولیت نه ترسره کېږي چې زموږ پر اوږو اچول شوی دی. د قرآن کریم او نبوي احادیثو په رڼا کې دا حقیقت په گوته کېږي چې زموږ ستر مسؤولیت دا دی چې خپل ژوند د محمد صلی الله علیه وسلم په اتباع کې تېر کړو، دهغه په نقش قدم ولاړ شو، له هغه سره مینه وکړو او دهغه د راوړې دین د قیام لپاره عملي گامونه اوچت کړو.

لوی الله پخپل کتاب قرآن کریم کې مؤمنانو ته ددې خبرې امر کړی دی چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم تاسو ته څه درکوي هغه واخلئ او له کوم څیز نه مو چې منع کوي له هغه نه لاس په سر شئ. (الحشر)

د الله تعالی له دې ارشاد نه دا خبره جوته شوه چې که څوک په نبغه لاره تلل غواړي نو هغه یوازې د محمد صلی الله علیه وسلم د سیرت او کردار په خپلولو سره ترلاسه کېدلې شي، لدېنه اخوا ټولې د گمراهی لارې دي.

که موږ پخپل ناکامي غور وکړو نو ددې یواځینی لامل به همدا راووځي چې موږ پخپل ژوند کې د محمد صلی الله علیه وسلم له غوره اخلاق او سیرت نه سرغړونه کړې ده او د هغه صلی الله علیه وسلم اتباع مو عملاً پرېښې ده، په داسې حال کې چې الله تعالی د انسان د کامیابي او سرلوړي راز د رسول الله صلی الله علیه وسلم په بشپړ اتباع کې اېښې دی. اسلامي امت په حقیقي معنی هله ابدي بریالیتوب ترلاسه کولې شي چې پر محمد صلی الله علیه وسلم نه یوازې دا چې ایمان راوړي بلکې دهغه صلی الله علیه وسلم او دهغه ددین مرسته وکړي.

لکه چې الله تعال په الاعراف سوره کې فرمایلي دي:

"نو کوم خلک چې پر محمد صلی الله علیه وسلم ایمان راوړي، دهغه حمایت او مرسته وکړي، دهغې رڼا یعنی د قرآن کریم د احکامو پیروي وکړي چې پر محمد صلی الله علیه وسلم نازل شوی دی نو همغوی بریالي دي".

په پورتنی آیت کې د مؤمنانو د کامیابي لپاره دغه لاندې شرطونه ښودل شوي دي:

۱- د محمد صلی الله علیه وسلم پر رسالت او دهغه پر پاک سیرت ایمان درلودل.

۲- په بشپړ اخلاص دهغه صلی الله علیه وسلم د کړنلارې حمایت کول.

۳- د الله تعالی ددین د قیام او د ژوند په ټولو څانگو کې دهغه د نافذولو لپاره بشپړ مرسته کول.

۴- دهغې رڼا (قرآن کریم) چې پر محمد صلی الله علیه وسلم نازل شوې د زړه له کومې منل او خپل کړنلاره جوړول.

له دغو پورتنیو الهی لارښوونو څخه ثابت شو چې پر مسلمانانو د مولود د ورځې نمانځل فرض نه بلکې پر هغوی دا فرض دی چې د خپل ژوند په ټولو څانگو کې د محمد صلی الله علیه وسلم د سنتو بشپړ اتباع وکړي، او د زړه له تل نه ورته په احترام قائل شي، له هغه صلی الله علیه وسلم سره د خپل ځان، اولاد او مال نه زیاته مینه وکړي، خپله خوښه د رسول الله صلی الله علیه وسلم له خوښې نه قربان او په هر کار کې دهغه د سنتو پیروي وکړي، که الله مکړه څوک په دې معیار پوره ونه خیژي نو که هغه په ژبه څومره له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د مینې شعارونه ورکړي د مولود شریف محفلونه دائر او ښه ډېر مصارف پکې وکړي دا ټول تش شعارونه دي او ددین په رڼا کې هېڅ اهمیت نه لري ځکه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم له اطاعت او دهغه د سنتو له عملي کولو پرته هېڅوک مسلمان کېدلې نشي، د محمد صلی الله علیه وسلم اطاعت د الله تعالی اطاعت دي او دهغه صلی الله علیه وسلم له اطاعت نه سرغړونه له الله تعالی نه سرغړونه ده.

در شرق میانه چه میگذرد؟!

اعزامی

شرق میانه پس از تجزیه امپراطوری اسلامی در پایان دوره علوی ها و انقراض خلافت کجدار و مریز عثمانی در اوایل قرن ۲۰، عظمت و ابهت تاریخی و دیرینهٔ خود را از دست داد و برای جلوگیری از یکپارچه شدن مردمان ساکن در این منطقه، دشمنان توطئه های بزرگی براه انداختند تا مسلمانان بر محور اسلام، موفق به ایجاد وحدت میان دول اسلامی نشوند، زیرا موجودیت اختلاف و بحران در این خطه موجب کینه توزی و کشمکش میان کشورهای اسلامی گردیده و در نهایت زمینه برای نفوذ دول استعماری مساعد می شود.

اقامهٔ رژیم های دیکتاتوری و موروثی در شرق میانه، سالیان متمادی عقیده، آرمان، آزادی و روان مسلمانان را جریحه دار نموده و طی همین مدت، قیامهای مردمی و مبارزات آزادی بخش نهضت های اسلامی منطقه در تمام کشورهای اسلامی بالخصوص در فلسطین اشغالی کاملاً مشهود است. قربانی ها و فداکاری های مبارزین فلسطین در جریان تقریباً ۶۰ سال تا هنوز به هدف نهایی اش یعنی آزادی فلسطین از سلطهٔ غاصبان صهیونیستی، نایل نگردیده و هنوز روزانه به دهها نفر فلسطینی آماج حملات مرگبار نیروهای مجهز اسرائیلی قرار می گیرند.

مسلمانان منطقه از این محرومیت ها و مظلومیت ها بالاخره به ستوه آمدند و به این نتیجه رسیدند تا زمانیکه رژیم های مطلق العنان بر سرنوشت آنها حاکم باشند، داعیهٔ دیرینهٔ مسلمانان در مصاف با رژیم صهیونیستی به جایی نمیرسد، حالا مسلمانان بالخصوص دنیای عرب تصمیم گرفته اند که برای رهایی خویش از استعمار خارجی در قدم اول لازم است تا به عمر ننگین رژیم های ظالم و وابسته پایان داده و در ثانی با نیروهای متجاوز و دست نشاندهٔ صهیونیستی به مقابله پرداخت.

اولین اقدام را تقریباً دو ماه قبل در زمینه مردم تونس کرد و با راه اندازی تظاهرات علیه دولت، رژیم دیکتاتوری زین العابدین بن علی را در آن کشور زایل کردند. از آن تاریخ به بعد، به تبعیت از قیام تونسی ها، مصری ها نیز علیه رژیم حسنی مبارک قیام کردند و مدت دو هفته میشود که با راه اندازی تظاهرات ملیونی، مردم خواستار استعفای حسنی مبارک و سقوط رژیم او شدند، باوجود آنکه مبارک با ایجاد تغییرات و جابجایی های تازه در کادر بالایی حکومت، خواست که بر خشم مردم آب ریخته و آنها را قانع سازد تا از تظاهرات دست بکشند، مگر تظاهر کنندگان به مبارک گفتند که به چیزی کمتر از کنار رفتن وی از قدرت و انتقال اقتدار سیاسی به مردم مصر راضی نخواهند شد. به همین منظور صدراعظم جدید مصر به دستور مبارک با نمایندگان تظاهر کنندگان به گفتگو نشست، ولی بدون نتیجه پایان یافت.

حسنی مبارک اطمینان داشت که نیروهای امنیتی مصر و حامیان خارجی اش، رژیم او را حمایت کرده و از خطر سقوط نجات میدهند، ولی هر دو منبع امید مبارک از او حمایت نکردند. قوای امنیتی مصر در جریان تظاهرات تعهد سپردند که با حفظ بیطرفی، تظاهرات مردم را سرکوب نخواهند کرد و حتی بعضی از سربازان و افسران نیروهای امنیتی به صف تظاهر کنندگان پیوست. هکذا سران دول غربی بالخصوص مقامات ایالات متحده امریکا از مبارک تقاضا کردند که در برابر خواست های برحق مردم معترض تسلیم گردیده و قدرت را بصورت مسالمت آمیز به مردم مصر انتقال بدهد.

بدون شک سرنوشت زعما و حکام مطلق العنان شرق میانه، به سرنوشت زین العابدین بن علی و حسنی مبارک گره خورده است و وابستگی، فساد، بی کفایتی و مطلق العنانی، ویژگی های تمامی رژیم های دیکتاتوری و بیگانه از مردم است، این صفات در هر رژیمی و در هر کجای از دنیا که به ملاحظه برسد، خواهی نخواهی با مخالفت و قیام مردمی روبرو میشوند، معهذا سقوط رژیم های زین العابدین و حسنی مبارک در تونس مصر، درس عبرت و پند برای تمامی رژیم های خود کامه می باشد.

قیام و انقلاب مردمی علیه رژیم های استبدادی تنها در تونس، مصر و فلسطین خلاصه نمی شود، زیرا امروزه از اندونیزیا گرفته تا المغرب ملت ها به شور آمده اند و برای رهایی از سیطره ظلم قیام نموده اند. با پیروزی تظاهر کنندگان در تونس و در هماهنگی آنها، مصریان نیز علیه رژیم مبارک به پا خاستند و پس از ۱۸ روز رژیم مبارک را سقوط دادند.

پس از پیروزی انقلاب مردم مصر، تظاهرات مشابهی در سایر بلاد اسلامی چون یمن، لیبیا، بحرین، سوریه و عربستان سعودی در حال اوج گرفتن است. حتی اقلیت های مسلمان ساکن در کشورهای غربی خصوصاً در ایالات متحده امریکا و اروپا به رسم حمایت از تظاهر کننده گان مصری و تونسی، در برابر سفارتخانه های کشورهای متبوع شان به تظاهرات پرداختند و خواهان کناره گیری حکام زورگو و زوال رژیم های غیر مردمی آنها گردیدند و از کشورهای غربی تقاضا نمودند که به اراده و آرمان ملت های مسلمان احترام گذاشته و بیشتر از این از بقای رژیم های خود کامه و غیر دیموکراتیک در جهان اسلام حمایت ننمایند.

د کب دریمه د حماسو د تاریخ یو نه هېرېدونکې ورځ

عبدالخلیل

د کب د میاشتې دریمه هغه نه هېرېدونکي تاریخي ورځ ده چې د پخوانی شوروي اتحاد د یرغلگر پوځ په خلاف د کابل مؤمنو ښاریانو له قهره ډک پاڅون وکړ، دا ورځ پر افغانستان د شوروي پوځ د یرغل اووه پنځوسمه ورځ وه. د کابل د قهرمان ولس دغه پاڅون ځکه نه هېرېدونکی او تاریخي دی چې دوی د یو داسې وحشي پوځ په خلاف قیام وکړ چې په خطرناکو وژونکو وسلو سنبال و، د کابل اوسېدونکو خپل مرگ پخپلو سترگو لېده او په دې پوهېدل چې د شوروي وحشي پوځ په خلاف پاڅونِ کول له غره سره ډغرې وهل دي، خو د ایمان او خاورې سره د مینې غوښتنه همدا وه چې د یرغلگر پوځ په خلاف د مقاومت او کرکې اوسپنیز دیوال جوړ کړی شي او هغوی ته دا وښودل شي چې افغانان په هېڅ حالت کې د چا په وړاندې د غلامی او منتی سر ایښودلو ته چمتو نه دي.

له یوه لورې د کابل په جادو او کوڅو کې د کابل غیرتي وگړو سینې وې او بل لورې شوروي ځناور صفته پوځیانو ټانکونه او کلاشینکوفونه، یو لورې د الله اکبر ملکوتي نارې وې او بل لورې د شعلو او کلاشینکوفو د ډزو غړمبس او ټکهار، د حق او باطل ترمنځ په دغه ټکر کې د حق علمبردارانو گردی نړۍ ته دا پیغام ورکړ چې که د باطل پلویان څومره هم قوي وي بیا هم د حق په وړاندې بې بسه او ناتوانه دي، هغوی نشي کولې چې د حق د پلویانو ستونې خپه، او له منځه یوسي.

دا د کابل د ښاریانو د قیام او بې دریغه قربانیو ثمره وه چې په گرد افغانستان کې د پاڅون بیرغ اوچت شو، د افغانستان په گوټ گوټ کې د شوروي یرغلگرو پوځونو او دهغوی خلقي او پرچمي گوډاگیانو په خلاف وسله وال جهاد پیل شو، د الله د لارې د سپاهیانو او فرعوني پوځیانو ترمنځ د غوښې او باروتو په ټکر کې فرعوني ځواکونه د شگو دیوالونه ثابت شول. اعصاب یې شل او پښې یې ولړځیدلې او بالاخر د لسو کلو، اوږدې جگړې وروسته یې زغم ختم او له افغانستانه تېښته یې غنیمت وگاڼه.

لنډه یې دا چې شوروي یرغلگرو پوځونو په خلاف د کابل اتلو اوسېدونکو پاڅون او دهغوی سرښندنه د تاریخ یو طلایي باب دی، د افغانستان ټول وگړي ددوی دغه جرئت، اتلولي او سرښندنې ته سلام کوي.

دوی په واقعي مانا له خپل دین، خاورې، عقیدې او استقلال سره خپله بشپړ اخلاص او وفاداري ښکاره کړ، دوی د افغانستان د آزادۍ ستر قهرمانان او د شهادتونو علمبرداران دي، د کب د میاشتې دریمه ددوی د قربانیو گواه ده او په دې ورځ به د قیامت تر ورځې ددوی دغه ستر پاڅون نمانځل کېږي او د تحسین خراج به ورته وړاندې کېږي.

له بده مرغه ددومره لویې قربانۍ باوجود نن هم افغانستان د خپل تاریخ په یوه حساسه او خطرناک پړاو کې قرار لري نو ځکه ددې خبرې اړتیا لیدل کېږي چې افغانان یو ځل بیا د اتفاق او یووالي په منظم صف کې ودرېږي، لکه څنگه چې د شوروي یرغلگرو پوځونو په خلاف د ځاني او مالي قربانیو په ورکولو کې خپل ایماني او افغاني مسؤولیت ترسره کړی و نن دې هم د خپل هېواد د استحکام، ملي یووالي او بیارغاونې لپاره د قربانۍ گامونه اوچت کړي تر څو ولس د مرگونو، ویرونو، غمونو، غربت، افلاس او پریشانیو خلاصون ترلاسه کړي ځکه چې همدا زموږ اصلي مقصد او مرام دی او زموږ اسلافو دومره لویه قرباني د همدې هدف لپاره ورکړي وه چې راتلونکې نسل د امن، استقلال او یووالې په فضاء کې د عزت ژوند تیر کړي او په نړۍ کې هسکه شمله وگرځي.

شهادت اوونیزه

خپروونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز څښتن: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله کامه وال
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (محمد خلیل)
داړیکې شمېره ۰۷۰۸۱۹۸۵۸۲
ایمیل:
shahadatnews_kabul@yahoo.com
دیزاین: خواجه وحیدالله
د کتنپلاوي تر څارنې لاندې
آدرس: دحزب اسلامي دفتر
سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه

افغانستان د نړیوالو رسنیو په هنداره کې

ډېرو لویدیځو ورځپاڼو په خپلو وروستیو ګڼو کې په جلال اباد کې د کابل بانک په دفتر د وسله والو طالبانو د برید په اړه مطالب خپاره کړي دي، چې د شهادت درنو لوستونکو ته وړاندې کېږي:

نیویارک ټایمز:

نیویارک ټایمز ورځپاڼه لیکي، چې په جلال اباد کې د مخالفینو برید ناځاپي وو او څکه یې مخکې اټکل نه وو شوی چې جلال اباد یو سوداګری ښار دی، د تورخم له لارې د افغانستان زیاتر واردات او صادرات په جلال اباد تیرېږي او دغه ښار په وروستیو څو کلونو کې نسبتا ارام وو.

ورځپاڼه لیکي، چې طالبانو د کلونو راهیسې د ننګرهار په ولایت کې تګ راتګ کاوه خو جلال اباد کې یې خپل موجودیت تر وروستیو پورې دومره نه وو څرګند کړی.

ورځپاڼه په ولسي جرګه کې د ننګرهار د یو وکیل له قوله لیکي، چې وایي طالبانو په خپل دغه برید سره وښودل چې د دولت په امنیتي تدابیرو کې چې څنګه یې زړه غواړي درز رامنځ ته کولای شي.

نیویارک ټایمز لیکي، چې طالبان په خپل دغه برید غواړي دولت کمزوری څرګند کړي.

واشنګټن پوسټ:

واشنګټن پوسټ ورځپاڼې بیا پر کابل بانک باندې د دغه برید تاثیر څېړلی دی او لیکي، چې کابل بانک له پخوانیو ټکانونو چې څو ته مالکان یې ونیول شول او شتمني یې بندې شوې لا وتلې نه وو چې له یو بلې ستونزې سره مخامخ شو.

ورځپاڼه لیکي، چې په جلال اباد کې د کابل بانک په دفتر برید کیدای شي یو شمېر نور مشترکین مجبور کړي چې له دغه بانکه خپلې پیسې وباسي.

ورځپاڼه لیکي، چې لسګونه زره خلک د دغه بانک له لارې تنخواګانې اخلي او کابل بانک د افغانستان په زیاترو ولایتونو کې دفترونه لري. په جلال اباد کې د کابل بانک په دفتر برید به د دغه بانک د نورو دفترونو په کار هم تاثیر وکړي.

لاس انجلس ټایمز:

لاس انجلس ټایمز ورځپاڼه بیا لیکي، چې په جلال اباد کې د کابل بانک په دفتر برید په داسې مهال وشو، چې یو شمېر کار کوونکي یې دغرمې د ډوډۍ لپاره وتلي وو او ځینو غوښتل له بانکه پیسې وباسي او چیرته کوم رستوران یا کافي کې ډوډۍ وخوري. خو دغه برید ګڼ دغه کسان په وینو ولمبول او دغرمې ډوډۍ یې د کورنیو لپاره په ماتم بدله شوه.

ورځپاڼه د عیني شاهدانو او افغان او بهرنیو چارواکو له قوله لیکي چې وایي د دغه برید زیاتره قربانیان ولسي خلک وو.

د شهید اسدالله زهیر د شهادت ...

که څه هم د شهید اسدالله پر اوږو د یتیمی او هجرت درووند بار پروت و مګر ددې ټولو باوجود په پاکستان کې د هجرت په دیار کې خپل ابتدایي او ثانوي زده کړې یې په ډېر شوق او ذوق په پېښور کې د حزب اسلامي په لیسه کې سرته ورسولې او لوړی زده کړې یې د سعودي عربستان د امام محمد په پوهنتون کې ترسره کړې.

شهید اسدالله پخپل سپېڅلی دین او خاوره دومره مین و چې د خپلو درسونو تر څنګ به د رخصتیو په ورځو کې د روسي یرغلګر پوځ او دهغه د ګوډاګیانو په خلاف په جهاد کې برخه اخستلو او خپلو مجاهدو ورونو سره یو ځای به اوږه په اوږه جهاد کاو.

د شهید اسدالله اخلاق، دیانت او ایمانداري د لیدو وړ و، خوش اخلاق، خوږ ژبی، زړه سواندې او مشفق ځوان و، تل یې هڅه کاو چې د سیمې اوسیدونکو ته د خیر ښېګڼې کارونه وکړي او له پاکستان څخه راستنه شوي مهاجرینو ته د سر پټولو لپاره د کورونو د جوړولو تر څنګ نور ضرورتونه یې هم پوره کړي چې په دې نیک مقصد کې ډېر بریالیتوبونه یې هم ترلاسه کړي وو. نوموړي د ولس په زړونو کې ډېر لوی ځای درلود او د هر چا د سترګو تورو، د هغه په وژل کېدو ټول لوی او واړه ودردېدل او په کرېکو کریکو یې وژړل، پرون یې هم ورته دعاګانې کولې او نن هم ورته دعاګانې کوي، زه په یقین سره ویلې شم چې دشهید اسدالله قاتل به هم پخپلې ګناه په سرو سترګو ژاړي او دهغه ضمیر به ترېنه بیا بیا پوښتنه کوي چې ولې دې د یو داسې ځوان وینې وبیولې چې د تقوی او غوره اخلاق خاوند و؟ !

ولې دې داسې باسواده او خدمتګار ځوان وواژه چې پلار یې د الله تعالی له سپېڅلی دین سره د مینې په جرم د ملحدو کمونستانو له خوا په شهادت رسول شوی و؟ ولې دې د یو داسې ځوان په وینو لاسونه دې سره کړل چې دهغه په هر رګ کې د اسلام او د مسلمانانو د خدمت ولولو ټوپونه وهل؟

ولې دې د یو داسې ځوان د ژوند ډیوه مړه کړه چې دعلم رڼا یې هر لورې خورېده؟ ولې دې داسې د ګلابو ګل ورژاوه چې په بوی یې خلک نه مړیدل؟ ولې دې د یو داسې زړه سواندې ځوان وچولې او سینه په ګولیو غلبیل کړ چې د خپلې سیمې د ولس د خدمت لپاره خپل ځان وقف کړی و؟

شهیده ! ټول ولس په دې ګواهي ورکوي چې ته په حقیقت کې مړ نه یې، د پرون په څېر نن هم د خلکو په زړونو کې ژوندی یې، په حجرو او غونډو کې ستا یادونه تازه دي، ستا غوره اخلاق ستایي او له لوی الله نه درته په جنت کې د اوچتو درجو سوالونه کوي.

ته یو مظلوم شهید یې د کائناتو خالق د شهید مرګ ستایلې او فرمایلي یې دي چې شهیدانو ته مړه مه وایاست هغوی ژوندی دي او د خپل رب له لورې ورته رزق ورکول کېږي.

شهیده ورروه ! څنګه چې تا د خپلو نیکو اخلاقو او غوره خدمتونو له کبله زموږ په زړونو کې اوچت مقام پریښې دی، نو موږ هم ستا لپاره د ژوند تر آخرنیو سلګیو پورې د اتو واړو جنتونو دعاګانې کوو.

شورای عالی صلح یک هیأت ...

از سوی دیگر عبدالحکیم مجاهد یک عضو دیگر شورای عالی صلح به رادیو آزادی گفت، امروز سه شنبه یک هیات این شورا عازم ترکیه می شود.

وی هدف این سفر را دیدار با مقامات ترکیه درباره پروسه صلح در افغانستان عنوان کرد. عبدالحکیم مجاهد می گوید، هدف اصلی شان ایجاد فضای اعتماد در افغانستان و منطقه است.

پیش از این رییس جمهور حامد کرزی از مفکوره ایجاد دفتر طالبان در ترکیه حمایت کرده بود تا این که آدرس مشخصی برای گفتگو با طالبان به دست آید.

روزنامه تیلګراف در ماه جاری گزارش داد که شورای عالی صلح رسماً خواهان رهایی خیرالله خیرخواه یک وزیر در رژیم سابق طالبان شده است.

خیرخواه از نزدیک به ۹ سال به این سو در حبس به سر می برد.

رییس کمیته زندانیان سیاسی شورای عالی صلح مولوی ارسلا رحمانی گفته است، یک هیات کوچک را برای بررسی وضعیت می فرستند و همچنین می خواهند از زندانیان بشنوند که در صورت رهایی چه اراده دارند و چه می خواهند که بکنند.

روزنامه تیلګراف می نویسد، سفارتخانه امریکا در کابل از تبصره در مورد سفر هیات شورای عالی صلح به گوانتانامو خودداری کرده است.

ذبیح الله مجاهد سخنگوی گروه طالبان در ارتباط به اعزام هیات شورای عالی صلح به گوانتانامو ابراز بی اطلاعی کرده اما گفته است نمی خواهند که زندانیان رها شوند.

هیلاری کلنتن وزیر خارجه ایالات متحده امریکا روز جمعه ابراز امیدواری کرد که تلاش های نظامی به رهبری امریکا، طالبان را از القاعده علیحده و زمینه را برای آشتی پایدار هموار کند.

د پاکستانیانو قاتل د سي، آی، اې ...

ډیویس چې اوس په پاکستان کې بندي دئ، امریکا ادعا کوله چې هغه د دوی ډیپلومات دئ او د ډیپلوماتیک مصئونیت له مخې باید ژر ترژره خوشې سي، خو پاکستاني حکومت یې تر اوسه امریکا ته له ورسپارلو ډډه کړې ده.

د نیویارک ټایمز له خوا د ډیویس له ډیپلوماتیک مخ څخه په داسې حال کې پرده پورته کېږي، چې پاکستان یې دمخه لا پر ډیپلوماتیکه دنده شکمن وو.

د ولسي جرګې د رئیس د ټاکلو...

ولسي جرګې په عمومي غونډه کې وویل، چې د ولسي جرګې د رییس د انتخاب پرسر د پیداشوې لانجې د حل لپاره ولسمشر کرزي ورسره د هر راز مرستې ژمنه کړې:

" د ولسمشرله روحیې څخه مو دا ومونده چې د حل یوې لارې ته هیله من وو له موږ سره یې ژمنه وکړه، چې بېلابېلو خواوو سره تر خبرو وروسته به یوه حل لاره پیدا کړي.

که چیرې زموږ د څانګړي کمیسیون په داخل کې هم دې مسالې ته د حل لارې موندلو روحیه پیدا شي نو دا ستونزه هرو مرو هواریږي، زما په باور افغانستان دیته اړتیا لري چې موږ ګذشت ولرو ".

د ولسي جرګې غړي په تیره یوه میاشت کې له څلورو څلو انتخاباتو سره سره ونه توانیدل د دې جرګې رییس انتخاب کړي، د ولسي جرګې د رییس د انتخاب پر سر دې ستونزو ان په ملي او نړیواله سطح د ولسي جرګې په غړو انتقادونه هم را وپارول او ډېر شمېر خلک وایي، چې د ولسي جرګې یو شمېر مهمو غړو ملي منافعو ته نه بلکې خپلو شخصي ګټو ته لومړیتوب ورکړی دی.

حاجي محمد محقق وایي، چې ولسمشر کرزي له دوي سره په لیدنه کې ویلي، چې له استاد سیاف او محمد یونس قانوني سره به هم د ولسي جرګې د موجوده ستونزې د حل په اړه خبره وکړي او هڅه کیږي چې د دې جنجال یوه سیاسي حل لاره پیدا شي.

خو د ولسي جرګې غړی میرویس یاسیني بیا د دې جرګې د رییس د انتخاب پرسر د ولاړې شوې ستونزې حل لپاره د ولسمشر کرزي مداخله ګټوره نه بولي او وایي چې ښایي دا هڅې بیا بې نتیجې پای ته ورسیږي:

"دا ستونزه د بهر نه پیداشوی په داخل د پارلمان کې ترڅو چې پارلمان خپله ځانته ریس ونه ټاکي نو د بیرون مداخلې به یې نور هم خراب کړي او ولسمشر کرزی دلته هم کوم حزب نه لري. "

په عین حال کې د ولسي جرګې پخواني رییس محمد یونس قانوني چې د دې جرګې د ریاست لپاره انتخاباتو کې یې تر استاد سیاف کمې رایې وګټلې تأیید کړه چې د حکومت په کابینه کې د وزارت سپارلو خبرې ورسره شوې خو ده دا ډول خبرې نه دي منلې.

د ولسي جرګې له لانجمنو انتخاباتو څخه وروسته د ولسي جرګې د رییس د انتخاب په اړه پیدا شوې ستونزې په تیره یوه میاشت کې د افغانستان د رسنیو مهم سرټکي جوړوي، دې مسالې ان د عامو خلکو وړې او عادي غونډې هم له سیاسي خبرو ډکې کړې او خلکو ته یې پر ولسي جرګې د انتقاد توره په لاس ورکړې ده.

د خوست والي د وروستي بریدونو ...

هم د دولت د ولسوالو مخالفینو پر ځای پر عامو وګړیو بمباري وکړه او د کونړ د والي په وینا، چې ۵۰ عامو وګړیو ته په کې مرګ ژوبله واوښته.

د شنبې په ورځ په جلال اباد ښار کې وسلوالو طالبانو پر کابل بانک برید وکړ، چې شاوخوا ۱۰۰ تنو عامو وګړیو او د ملي اردو او پولیسو یو شمېر سرتېرو ته مرګ ژوبله واوښته.

د خوست والي له مرکزي څخه وغوښتل، چې د دغو پېښو له قربانیانو سره د خواخوږۍ په موخه او د قربانیانو کورنیو ته د احترام په خاطر دې ملي ماتم اعلان او په ټولو تصویري او صوتي رسنیو کې د سندرو په غږولو بندیز ولګول شي.

پایگاه های دایمی در افغانستان ...

توجه بیشتر کرده و به کمک های اش در این مورد ادامه خواهد داد. ناتو در حالی از نخواستن پایگاه های دایمی در افغانستان سخن میزند که رئیس جمهور کرزی، هفته گذشته، طی یک نشست خبری گفت که امریکا خواستار پایگاه های دایمی است. وی افزود که چندی قبل صحبت ها در مورد ایجاد روابط ستراتیژیک میان امریکا و افغانستان صورت گرفته و برخی مقامات امریکایی، خواستار ایجاد پایگاه های دایمی نظامی در افغانستان شده اند.

به گفتهٔ کرزی، شورای ملی و لویه جرگه افغانستان در مورد اجازه ایجاد پایگاه های دایمی امریکایی فیصله خواهد کرد. کرزی همچنان نظر کشور های همسایه را در مورد ایجاد پایگاه های نظامی امریکا در افغانستان مهم خواند. همچنان هلیری کلنتن وزیر امور خارجه امریکا روز گذشته در یک نشست خبری در واشنگتن گفت که کشورش حق حفاظت از اتباع و منافع اش را دارد. اما وی افزود: "از این اراده ما کسی معنی غلط نگیرد، ما هرگز نمیخواهیم تا برخلاف خواست افغان ها، افغانستان را اشغال کنیم. "

خانم کلنتن گفته است که آنها به تاریخ پرافتخار افغانستان که علیه اشغالگران خارجی داشته اند، احترام دارند. وی افزود: "با توجه به این نکته، ما هرگز خواهان داشتن پایگاه های دایمی نظامی در افغانستان نمیباشیم. " به همین ترتیب، کارل ایکن بیری سفیر امریکا در افغانستان روز گذشته در کابل گفت که اگر افغان ها از آنها احساس خطر نمایند، آنها پایگاه دایمی را در افغانستان ایجاد نخواهند کرد. وی افزود: "اگر حکومت و مردم افغانستان از ما بخواهند که برای طویل المدت در افغانستان باقی بمانیم، واضح است که به اساس این خواست، بعضی پایگاه نظامی را ایجاد خواهیم کرد اما دایمی نخواهد بود. "

امریکایي سناتوران د افغانستان په ...

کړی وو، په حالاتو کې یو څه ښه والی ویني خو ده په عین حال کې وویل چې د فساد د مخنیوي لپاره ستونزې مخ پر زیاتېدو دي.

د امریکایي سناتورانو پلاوی د افغانستان تر سفر مخکې پاکستان ته تللی وو او د دغه هیواد له صدراعظم سید یوسف رضا ګیلاني او نورو چارواکو سره یې کتلي وو.

د امریکا او پاکستان اړیکې په وروستیو کې په لاهور کې د یوه امریکایي ډیپلومات د نیولو پرسر ترینګلې شوې دي.

په بدخشان کې د ولسي جرګې ...

"چون دوي په فشار سره ورننوتل او زموږ ګودامونه یې مهرولاک کړل او د رایو صندوقونه یې په خپل کنټرول کې واخیستل، موږ هیڅ راز مزاحمت ونه کړ او شاید چې په وس مو هم نه وو پوره.

په هر حال، لکه، چې دوي غواړي خپله رایې بیا وشمېري او له هغې کومه بله نتیجه راوباسي، خو ښه ده مسؤلیت به یې هم خپل وي.

لومړي خو دوي، چې کومه قانوني پریکړه کوي دا باید واضح شي، چې د قانون له کومو موادو نه کار اخلي، څکه په دې برخه کې صراحت موجود دې، چې د محکمې پریکړه باید په قانون کې روښانه وي. "

ځانګړې محکمې تر دې مخکې د انتخاباتو د کمسیون د دارلانشاء رئیس او د یو بل غړي دندې هم ځنډولې، خو د کمسیون مشر دا هم غیر قانوني کار بولي او وایي، چې دغه غړي به په کمسیون کې خپل کار ته دوام ورکړي.

د انتخاباتو د کمسیون مشر ښاغلي معنوي د هغو کسانو په لېسټ کې هم شامل دې، چې د ځانګړې محکمې په غوښتنه د لوی څارنوالی له خوا ممنوع الخروج اعلان شوي، خو ښاغلي معنوي په دې اړه کوم نظر څرګند نه کړ.

د ځانګړې محکمې له خوا دا وروستي اقدامات په داسې حال کې شوي، چې د افغانستان نوې ملي شورا پرانیستل شوې او وکیلان له تیرو شاوخوا دریو اونیو راهیسې د جرګې په چارو بوخت دي.

که څه هم د ځانګړې محکمې د پریکړو د پلې کولو په اړه ځینې پوښتنې لا هم موجودې دي، خو معترضه کاندیدان بیا هغو ته خوشبینه دي.

خو عبدالکبیر رنجبر نه یوازې په بدخشان کې د رایو د بیا شمېرلو لپاره وروستي اقدام قانوني بولي بلکه هیله مند هم دي، چې د ځانګړې محکمې پریکړې به پلې شي:

(خپله دا خپلواک کمیسیون هم یوه اداره ده، هیڅ استثنی موجوده نه ده او محکمه دا صلاحیت لري چې هره پریکړه کوي لکه چې کومو وکیلانو په درغلیو لاره پیداکړې وي ولسي جرګې ته هغوي بیرته له ولسي جرګې څخه را ایستل کیږي.)

د ولسي جرګې د انتخاباتو د دوسیو د څېړلو لپاره دا ځانګړې محکمه د سترې محکمې په سپارښتنه د ولسمشر کرزي په منظوری جوړه شوې، څو په انتخاباتو کې د درغلیو موارد وڅېړي.

د ولسي جرګې تیر انتخابات وروسته له هغې د کړکیچ سبب شول، چې په کې د درغلیو په اړه پراخ اعتراضونه پیل شول.

که څه هم نړیوالې ټولنې او ملګرو ملتونو د دغو انتخاباتو ملاتړ کړې، خو افغان حکومت بیا د اعتراضونو په پام کې ساتلو سره په دې اړه د عدلي او قضایي ادارو له خوا څېړنه کوي.

دا، چې د دې محکمې پریکړې به په عمل کې څومره د ولسي جرګې د اوسنیو غړو له خوا ومنلې شي دا به د دې جرګې له غبرګون نه څرګنده شي.